# په اسلام کې بحرانونه نشته، خو ډیموکراسي یې مور ده!

خبر

د فرانسي ولسمشر امانوېل ماکرون په فرانسه کې د خپلو خبرو پرمهال د اسلامي راډیکالېزم په هکله خبرې وکړې، نوموړي وویل: «اسلام هغه دین دی چې نن ورځ په ټوله نړۍ کې له بحران سره مخ دی» نوموړي اعلان وکړ، چې زه به د اسلامي راډیکالېزم پروړاندې درېږم او د فرانسې له سېکولر ارزښتونو څخه به دفاع او ساتنه کوم. منبع: (Sputnik Turkey)

تبصره

ماکرون هغه کس دی چې هر وخت یې له اسلام او مسلمانانو څخه خپله سخته کرکه په ډاګه کړې ده. اوس یې یو ځل بیا دغه بې معنا خبرې کړې دي: «اسلام بحران زیږوونکی دین دی او په هر ځای کې یې بحرانونه رامنځته کړي دي.» ماکرون هغه څوک دی چې هر وخت او په هر فرصت کې یې د اسلام او مسلمانانو پروړاندې خپل نفرت ښکاره کړی دی! د نوموړي اشاره دې ته وه چې اسلام په هر ځای کې د بحران سبب شوی. دا له اسلام سره لوی خیانت دی، موږ په دې پوهېږو چې اسلام د حقانیت دین دی. موږ پر دې هم ښه پوهېږو، چې تاسو غواړئ پر اسلام برید وکړئ، بدنام یې کړئ او په دې سره خپل ظلم او بربریت پټ کړئ. موږ په دې هم باور لرو چې کله اسلام حاکم شي، نو هغه مهال به ستاسو درواغ څرګند شي او ستاسو توره څېره به ټولو ته روښانه شي.

تاسو به هېڅکله هم پر اسلام له برید کولو لاس وانخلئ، غواړئ خلک په خپلو درواغو سره له اسلام څخه لیرې وساتئ، ځکه دغه حالت ستاسو له درواغو، تهمتونو او دښمنۍ څخه څرګندېږي. دا په یاد ولرئ او پوه شئ چې موږ به هم هېڅکله له تاسو سره له جګړې کولو لاس وانخلو او د ژوند تر وروستۍ سلګۍ به د اسلام د حاکمولو لپاره مبارزه کوو. په تاریخ کې اسلام نړۍ په عدالت سره رهبري کړې ده. د اسلام تاریخ د اسلام د روښانه او عادل راتلونکي ضمانت کوي، خو اې ماکارونه او امپریالیستي کفارو تاسو څه شی لرئ! د دېموکراسۍ جنایت کوونکی ریکارډ به هېڅکله هم پاک نه شي. له هغو راهیسې چې دیموکراسي رامنځ ته شوې، د ژوند په هره برخه کې د ناخوالو یوه فابریکه ده چې هرځای ته یې خباثت او شرارت رسېدلی دی. دېموکراسي خپله د ناورینونو سرچینه ده.

تاسو زموږ خاورې اشغال کړې دي او کفر مو راباندې حاکم کړی، تاسو له عمومي او شخصي ژوند پرته دغه کار ترسره کوئ، ځکه نو زموږ په خاورو کې چې کوم بحرانونه رامنځته کېږي دا ستاسو له لاسه دي! د الله سبحانه وتعالی له اجازې سره سم زموږ د شهادت ګوته چې په هر لمانځه کې یې د الله سبحانه وتعالی یووالي ته اشاره کوو، موږ به دې ته ادامه ورکوو تر څو دا واضح کړو چې د ټولو ناورینونو، ظلمونو او ستونزو مور دېموکراسي ده. په هغه ژبه چې د شهادت په کلمې سره ګویا ده وایو به چې د ناورینونو او بحرانونو اصلي سبب تاسو یاست. که چېرته تاسو له یاده ایستلي وي نو اې ماکرونه راشه تاته د فرانسې د انقلاب تاریخ درپه یاد کړو چې په هغه کې یوازې ویني او اوښکې وې، تاسو هلته په میلیونونو خپل هېوادوال

د دې په تور چې د جمهوريت خلاف دي ووژل او پرته له کوم رحم او شفقت څخه مو ماشومان د اسونو تر پښو لاندې کړل. هغوی چې ستاسو له وحشت او عاموژنې څخه وتښتېدل. تاسو د عثماني خلافت پروړاندې تهمت کوئ او اسلام بحران راوړونکی دین بولئ. تاسو دا هم هېر کړي دي چې يوې فرانسوي ښځې به ويل زه د فرانسوي په حيث د اسلام په عدالت باندې اعتماد لرم، مورږ تاسو ته دلته په لنډ ډول درپه يادوو چې که دلته هر بحران وي يا رامنځ ته کېږي دا ستاسو د ډيموکراسۍ له برکته دي، نه د اسلام له کبله. ځکه اسلام په پېړيو پېړيو بشريت ته عدالت او خير ورپه برخه کړی و. بحرانونه په اسلام کې نه بلکې د ډيموکراسۍ او سېکولرېزم په DNA کې دي.

په نړۍ کې د بحرانونو اصلي لامل تاسو او د فرانسې په څېر امپرياليستي کفار دي، ځکه چې افريقا د ځمکې لاندې او پر سر د طبيعي سرچينو له پلوه او داسې نور اسلامي هېوادونه تاسو استثمار کړي او خلک مو يې له لوږې او فقر سره مخ کړي دي. ستاسو د کفارو ډلې او د اسلام دښمنان چې پر اسلامي امت پسې درواغ تړئ داسې فکر نه کوئ چې دغه حالت به ترکومه ادامه کوي. فکر نه کوئ چې مسلمانان به د تل لپاره له ډيموکراسۍ او سېکولرېزم سره داسې څنګ په څنګ وي. دا خو روښانه ده چې مسلمانان تر هغو بهترين امت و، چې په خپله اسلامي عقيده يې منګولې لګولې وې او ټينګ پرې ولاړ و، دوی به دغه پروسه يو ځل بيا درک کوي او پرته له ځنډ څخه به داسې سپېڅلي او پاک انقلابونه رامنځته کوي. ځکه خو مورږ وايو: چې اې خلکو خپله دنيا او اخرت وساتئ، نړۍ د اسلام سيستم ته اړتيا لري او دا د راشده خلافت سيستم دی چې د ريښتيني خليفه په لاس به رهبري کېږي، نه ستاسو په بحران زېږوونکي سيستم.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکوال: عبدالله امام اغلو**

**۱۴۴۲هـق د ربيع الاول ۱۱مه**

**۲۰۲۰م، د اکتوبر ۲۸مه**